// افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد  بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم  از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com  afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

احمدشاه وردگ- کابل

۱۰ سپتمبر ۲۰۱۱

# خوندوری خبری!

## دتکړه طنز لیکونکی وسیم سجاد سره دزړه خواله!

یاره وسیم جانه وروره په قلم د برکت شه! دمور شیدی دی شه! لیکنی (بی خونده خبری) دی ډیری خوندوری دی ما یی کلیکسیون جوړ کړی چاپوم یی او خلکو ته یی ورکوم، واقیعتونه یکی وواییی دچا پلوی هم نکوی! خصوصا دحزبیانو؟ ځکه ته هم په خته اخوانی یی (ځکه مودودی ته رحمت الله علیه لیکی ولی نورو لوړو اسلامی شخصیتونه ته یی نه لیکی؟ که غلط وم بخشه غواړم). خیر دا ستا خپل کاردی او ستا د واقع بینی بیه نه راتیتوی.
په یوه بی خونده کیسه کی په ځینو خلکو(زنانه وو) لګیدلی وی هغه دی هم خدای دروبښی ولی دحزبیانو او نورو اخوانیانو همدا حال دی کوم چی دمیرعلم دی. نیم یی په غروکی د"الفایده" سره دی او نیم یی په پارلمان او کابینه کی او ځینی په بګرام اونور بیسونو کی ترجمانان او ګایدران دی ؟ ملایان او طالبان یی هم دخرڅلاوه راوایستل او دخدای دزوروړو آزمایښتونو سره یی مخ کړل. ولی ددوی دنفرت او تشدد فلسفه نور اخیستونکی نلری د دوی داعمالو له شرمه داخوان المسلمین په زانګو(لرغونی مصر کی) اخوانیان دتحریر میدان ته سر هم راخرګند نه کړ او وروسته له دی به که هر مسلمان د اسلامی حکومت دجوړولو تکل وکړی نو دوه ځله به سوچ کوی. څه نه و چی ویی نه کړل.
محاذیان، جبهه یان اوحرکتیان بیچاره ګان به یی مجاهد څه چی حتی مسلمانان هم نه بلل دوی ته به یی دظاهرشاه اوغرب ګوډاګیان ویل اوکه به هره ملی اویا نړیواله ورځ وه نو دسیدجمال الدین دلیسی زده کوونکو به دکبابیان-ورسک په لاره مرګ به ظاهرشاه ناری وهلی. ښه می په یاد دی کله چی وردګ طالبانو ونیول نو حزبیان او نور ځینی پټ شول. انجنیر طاووس(پوخ حزبی) هم پټ شوی وو. یوه ورځ دجهادی قوماندان ننګیالی خان کورته د طالبانو څو ډاتسنی راغلی وی او تر لمر لویدو پوری هلته وی. کله چی هغه لاړل نوانجنیر طاووس چی په ځنګله کی پټ وو، سره له نورو حزبیانو دننګیالی خان حجری ته راغلل او په دی وخت کی دماښام آذان وشو. ننګیالی خان انجنیر طاووس ته وویل چی مخکی شه او امامت وکړه؟ طاووس ورته وویل چی قوماندان صاحب! جماعت

هم راپسی کوی؟ هغه ورته وویل چی خدای مو خوارمه کړه مونږ هغه وخت هم مسلمانان بللی او اوس مو هم مسلمانان بولو! دا تاسو حزبیان وی چی دځان نه موپرته هیڅوک نه غوښتل .

هوکی وسیم جانه وروره تا سو یو میرعلم یاد کړ او که دخپل قلم څوکه ورته نیغه کړی نو په زرهاوو میرعلمان به نور هم رسوا کړی. وایی افغانستان دامپراتوریانو هدیره ده ! دابالکل درسته ده ولی ددی تر څنګ باید وویل شی چی افغانستان دپردیو ایدیولوژیو هدیره هم ده. یووار دنړیوال کمون سیر او پودینه دلته راوونله او نړیوال انترناسیونالیزم داسی پکی رسوا او روسیاه شو چی د روسانو زامن تر پلو او پل چکو لاندی وزیږدل او پی مخو روسی پیغلو خو دغرب د روسپی ګریو بازار تر ۱۰ ډالرو پوری راښکته کړ. بیانو داخوان نوبت شو( په تاسو دبده ونه لګی؟) دوی نو دمیر علم سر هم وګراوه او داسی کارنامی او تړونونه یی وکړل چی سید جمال الدین افغان اومحمد عبده یی هم په قبرونو کی په عذاب کړل. بیا وار ستا په قول دطالب جان شو! طالب جان هم د اخوانیانو او سلفیانو په لومو کی ګیر شو ددوی دسنګر انډیوالان چی افغانی تذکری یی هم ورکړی وی، دملایانو غاړی ته ورولویدل اوهغوی هم ملاته دخدای کلام وړاندی کړ،  او کله یی چی ملایان کندی ته وغورځول نو لکه هغه ګیدړه غوندی یی  دلیوه په سر یوه غزله وویله. دخوارلس سووکلونو ملایان یی راته تباه او برباد کړل. دمولوی صاحب خالص په خبره چی ملا ربانی ته یی کړی وه. دخیر نه مو توبه چی جوماتونه راباندی ونه دروی! همداسی وشول؟

دکابل په ملایان پسی خو زه خپله لمونځ نه کوم ستا زړه خپل؟ او په کلیو کی هم حالت تردی خراب دی. معلم وژنه ، دپاړسبانو خبره زن ستیزی، تیزاب پاشی او کفاروته لاس نه ورکول او داسی نورنور خو دهمدی مبارکو اخوانیانونه ملایانو ته ورپاته شول. ښه می په یاد دی چی دجهاد په لومړیو وختونو کی دیونیسکو یو پلاوی پیښورته راغی چی مشری یی یوی ښځی کوله ترڅو دمجاهدینو ترولکی لاندی سیمو کی دمعارف سره مرسته وکړی؟ اوکله چی دحزب دولایتی آمر(چارګل نثار) سره خلکو کښینوله بیان کله چی په روغبړ کی ښځی آمر صاحب ته لاس وروړاندی کړ نو ده مبارک لاس ورنه کړ او خپله جهادی تقوی یی پری خرابه نکړه، ښځه چی هماغه وخت لاړه بیا رانه غله خدای خبر څومره تاوان به یی دوردګو معارف ته اړولی وی؟ په هر صورت دآمر صاحب هغه تقوی هم پاته نه شوه بیا یی دجنرال تنی او حاجی صاحب دوستم باډیګاردی هم وکړه اواوس دصلیبیانو اویهودیانو بر دسترخوان تر محاذیانواوحضرت صاحب خیلو ډیر وړاندی کښینی اوکله ناکله دی اوقوماندانان یی دبابای ملت  دلمسیانو په دروازه کی هم کارته اوپورته کیږی اوځمکو اوجایدادونو وکالتونه اونور... یی هم کوی . زه اوته به یی څه کړو وسیم جانه وروره؟ دا دهریوه حال دی هیڅ‌اته هم هغه شعارونه او لویی ډبری چی په سینه به یی وهلی پاته نشوی او په دی لابراتوار(افغانستان) کی دهرچا وړی دکابلیانو خبره حلاجی شوی.

اوس نو وار زما اوستا ددموکراسی دی؟ زه فکر کوم چی دغه انسانی نوم( دخلکو واکمنی) چی تر ۳۰۰۰ کلونو پوری لرغونتوب لری هم داسی برباد او رسوا شوه او داراسره ومنه لکه څرنګه چی مو مارکس-انګلس -مائو اولینن او هم سید افغان ـ محمد عبده ـ حسن البناء- سید قطب اونور په قبرونو که په بل مخ راواړل نو داپلا وار دسقراط-افلاطون او ارسطو دی چی هغوی به هم په قبرونو کی پړ مخی شی؟ اولیری نه ده چی نور به په نړی کی خلک ددموکراسی نوم هم وانه خلی! ولی زما اوستا په پښتنی وینه کی  به بدلون رانشی ، ځکه په پښتنه وینه کی  کینه، نفرت نه وو اونشته! زما اوستا په کلیو اوبانډوکی هندوانو سیکانو او نورو غیر مسلمانان ډیر ښه دعزت ژوندونه درلودل اوهغوی مو خپل کړی ودستمیانو خبره ۲۵۰ کاله مو په ملک حکومت کړی ولی امتیازات،

چوکی مو نورو ورونږ قومونو ته ورکړی؟ ددوی په ژبه مو د۲۵۰ کاله شعرونه ویلی او مثنوی، حدیقه، خواجه حافظ خومو دقرآن دپاسه دکنداوانو په سرونو ایښی دانو دستمیانو بی انصافی ده چې یوه دپوهنتون لفظ نشی زغملای! حال داچی هر پښتون دلته دورځی کم ترکمه ۱۰۰۰ پاړسی لغتونه وایی. دپښتنی شاهانو په منځ کی شاه شجاع دخلکو ترنظر ډیر بد سړی تیر شوی ولی هغه هم ډیر عالی دیوان په پاړسی کی لری چې دنظاردشورا دشاعرانو(خلیلی، قهار عاصی اونورو) شعرونه یې ګرد ته هم نشی رسیدلای.

.هغه لنډی خو دحتمی اوریدلی:

یار می هندو زه مسلمان یم     دیار دپاره درمسال جارو کوومه

هوکی وسیم جانه وروره! ماواوتا درمسال هم جارو کړی ولی مغلوب هندو ته مو توهین نه دی کړی، هندوان او پارسیان مو هم نیولی ولی بی عزتی مویی نه ده کړی؟ په خپلوشاهی دربارنو کی مو هندوانو ته درمسالونه هم جوړکړی. دخپلو پښتو څخه مو په ډیر عزت دپارسیانو د۳۰۰ کلنو تاج راپورته کړی اودمغلوبانوسپین ږیرو لاس مو ورمچو کړی؟ ولی اوس همدوی د ډیر خونړی ښامارپه خوله کی ورکړی یوو اودوی چک چکی راته کوی؟ هغه دیوه لیکوال خبره چی پښتنوته داسی جنازه ورپه غاړه شوی چی دمړی ځای اوقاتل معلوم ندی او پښتانه یې پر اوږو وړی! داتول دچا دلاسه؟ .آی اس آی هم دقاضی حسین احمد په نظریاتو ولاړ یو دوزخی پنجابی سازمان دی ملا څه چی دملا پلار به هم راته خراب کړی اوپه دی وډار شه چی دامداریان به یوه ورځ زمونږ له مشرانو چرګه هم جوړ کړی او هګی په هم پری وکړی. دبیزوګانو اوشغالانو چمونه خویی ډیر پری وکړل خودوی یی په ځان نه وروړی. دااوس نظام او کابینی ، پارلمان ته وګوره هماغه څلور اخوانی بلاوی یی څرخوی: دحزب بلا، دجمعیت بلا، دوحدت بلا، او اتحاد بلا دانور لکه حرکت، محاذ، جبهه، حزب دموکراتیک اونور خو هسی بلی ګویان دی او دپیر صاحب خبره کله چی دوی په جلال آباد کی بندیان وشمالی خان ته یی وویل چی دوی بدبختان دی سره جوړ شی مونږ آمنا پسی کوو. نو بلا هماغه بلا ده که څوک ورته دداره توری وایی او که ما او تاغوندی په زغرده ورته حزبی اویا جمعیتی وایی؟

ولی یوه خبره اویو فلسفی اصل به ما اوتا له دی کندی راباسی او هماغه **یار می هندو زه مسلمان یم   دیاردپاره درمسال جاروکومه** :

خدای دی راوله وسیمه وروره

په پښتنی مینه

احمدشاه وردګ